اته ویشتم پودکاست

## د کابل تاریخ «لومړۍ برخه»

له ولسمشر محمد اشرف غني سره د ژوند لارې پودکاستو د لړۍ یوې بلې خپرونې ته سترګې مه شئ. نن موضوع د کابل تېر، اوس او راتلونکې ده، چې څنګه و؟ څنګه شو؟ ولې شو؟ او څنګه باید ووسي.

این سلسله برنامه‌ها را من داود جنبش به همراهی مهمان خود اجراء میکنم.

دکتور غنی به شماره دیگر «راه زندگی» خوش آمدید.

دکتور غنی: بسم الله الرحمن الرحیم. از جناب شما و تمام هموطنان ابراز امتنان و سپاس.

جنبش: بسیار تشکر، ژوندي اوسئ استاده.

زموږ مخکینۍ خپرونه د افغانستان پنځو ښارونو ته ستاسو په پلانونو باندې څرخېده چې مزارشریف، هرات، قندهار، خوست او جلال‌اباد کې باید څه کارونه شوي وای چې نتیجه کې یې د ژوند بڼه، تاسیسات، اقتصاد او چاپېریال د اوسنۍ ټولنې او د زمانې له غوښتنې سره برابر شوي وای، نن د کابل وار دی، موږ هلته ژمنه کړې وه چې کابل به د دې نورو له لړ نه وباسو، او څنګه چې دا د هیواد یو مهم ښار دی او په معاصره زمانه کې یعنې له ۱۷۷۳ز کال راهیسې پلازمېنه ده، زیات تفصیل او یو څه دې ته اړتیا شته چې تاریخ ته هم لاړ شوو. نو استاده موږ کابل د امیر کروړ له ویاړنې، د فردوسي له شهنامې، د بابر له خاطرو، د خوشحال خان له شعرونو او ګڼو نورو تاریخي او غیرتاریخي اسنادو نه پېژنو؛ په ښکلا، زرغونتیا، سترتیا او مستېدا یې پېژنو. دا ښار کله خپله دولت و، کله د کوم دولت مرکز و، لکه دا اوس چې دی او کله په نورو دولتونو پورې تړلی و، اهمیت یې له کومه وخته راځي؟

دکتور غنی: اهمیت یې ځو زره کاله دی، اما دقیق اسناد له بدې مرغې نه لا بشپړ شوي نه دي، ځکه دا لرغون پېژندنې تحقیقات غواړي، اما په دې باندې پوهېږو چې پس د سکندر له امپراتورۍ نه، دا یو مرکز و. یا د بګرام بالاحصار و، یا له هغه سره د منندر پاچا چې یو لوی یوناني او په عین حال کې بودایي پاچا و، مرکز به و. له بلې خوا نه، په دې هم پوهېږو چې کنشکا د ماوري امپراتورۍ لوی مشر چې بودایي مذهب یې ومانه او د چندرګوپتا لمسی و، د هغه کتیبې له قندهار نه پیدا شوې دي چې په دواړو ژبو باندې وې. او پس له هغه نه نورو ادارو کې دی تر څو چې مغلو دورې ته رسېږو. مخکې له هغه نه د هندوشاهانو دوره ده، د اسلام د مبین دین راتګ دی، او بالآخره د احمد شاه بابا له خوا د افغانستان د اوسني دولت تشکیل دی، او د پلازمېنې په حیث باندې د تیمور شاه تصمیم چې دلته یې راوړي.

جنبش: کابلِ زمان کابل شاهان که یک سلطنت جداگانه بوده با کابل غزنویان و کابل مغلی و کابل زمان درانی تفاوت هایی داشت که به آن ما نمی رویم؛ این شهر ابتدا از کجا آغاز شد؟ و مثلی که بعضی از پایتخت های دنیا مثلاً پایتخت روسیه را می گویند توسط افراد خاصی بنا شده، آیا ما یک نام خاصی را برده می توانیم که سنگ تهداب شهری به نام کابل را گذاشته باشد؟

دکتور غنی: سوال تان دو قسمت داشت، در یک قسمتش که از کجا شروع شده، استاد کهزاد فقید به این نظر بود که شهر کابل از چکری شروع شده و از خورد کابل و به طرف بالاحصار آمده و بعد از تشکیل بالاحصار در اطرف این شهری که در وسط دو کوه شیردروازه و آسمایی قرار داشت، تشکیل شده. این که بانی این شهر کی بوده، در این مورد یقین وجود ندارد، نه در فکلور ما و نه در اسناد تاریخی، اما چیزیکه قابل توجه است، اینست که باستان شناسی در حال تغییر بسیار مثبت است، چون تکنالوژی فعلی زمینه تحقیقاتی را فراهم کرده که قبلاً امکانش نبود، و از این جهت امیدواراستیم که خاصتاً اگر در ساحه بالاحصار تحقیقات جدی و همه جانبه صورت بگیرد روشنایی واضح ان‌شاءالله تعالی انداخته خواهد شد.

جنبش: اگر این نظریکه کابل به عنوان شهر از شرق آمد به طرف غرب، را بپذیریم و یا ثابت شود، این باید بسیار پیش از زمان کابل شاهان بوده باشد، چون در دوران آنها حداقل این آثار باقی مانده در کوه شیردروازه و اینها نشان میدهد که همین ساحه بالاحصار و گذرگاه و دهمزنگ باید مرکز شهر بوده باشد.

دکتور غنی: بلی، در اینجا وضاحت است، اما این نکته را هم باید در نظر بگیریم که ارتباط بالاحصار کابل با پایتخت تابستانی کنشکا در باگرام چه بود و قبل از کنشکا، با پادشاه‌های یونانی باختری ما، تا چه اندازه این حیثیت تنها یک بالاحصار را داشت یا یک حیثیت شهر مستقل را؛ این مسئله تا به حالی روشن نشده، چون یک قسمت از صکوک که موجود است و کشف شده نشان دهنده اینست که در کابل هم سکه زده شده بود.

جنبش: کوڅې څنګه ویستل کېدې او دا نومونه ورته څنګه غوره شوي؟ دا کوم نومونه چې اوس مونږ د کابل په کوڅو لرو، دا ښایي په کومو زمانو پورې اړه ولري؟

دکتور غنی: د دې له نظر نه درېیو برخو ته باید متوجه اوسو، لومړی دا ده چې یو قسمت نومونه له بابرنامې نه ډېر واضح دي چې موجود وو، همدا رقم تنګي واغجان یا مداغه یا ګردیز یا سیاه سنګ یا دا ... یو سلسله نومونه دي زه اوس په تفصیل نه راځم چې ثابت دي. یو قسمت نور نومونه دي چې متغیر وو. بالاحصار تر هغې ځې انګرېزانو والوځاوه او برباد یې کړ، یو ثابت ځای و. د کابل کوڅې د سیند په جنوب کې وې، تر څو چې امیر شیر علي خان له دې نه ووت او شېرپور خوا ته لاړ او پس له هغه نه عبدالرحمن خان د اوسني ارګ بنیاد کېښود. دلته هم کوڅې دوه برخې دي: یو، یو مستقل ښار شو چې نوم یې چنداول و، دوام لري لا هم د چنداول منطقه ده، اما اوسنی چنداول یوه وړه مرحله ده. تاریخي له نظر نه دا خپله دزوازه یې درلوده، خپل ډېر اوچت دیوالونه یې درلودل، او خپل استقلال یې

درلوده نسبي، د قاضي او دې له نظر نه. او د دېوالو اجازه وزير فتح خان ورکړله، باقي ښار و، اصلي برخې باندې چې ستاسې سوال ته راشم، لومړی دوه اوږده بازارونه وو، چې یو یې چارچتې باندې بدلېده، د بالاحصار له دروازې نه اخیستل کېده او د اوسنۍ جاده میوند نه دې خوا ته تر دهمزنگه پورې تّه. لوی‌ترین باني د دې بازار علي مردان خان و. علي مردان خان نهه کاله د شاه جهان په دوران کې د کابل والي و، مخکې له هغه نه د قندهار ولايت يې هم کړی و، پس ته کشمیر و لاهور و دې ته لاړ او امیرالامراء باندې بدل شو. او د علي مردان خان باغ د هغه له میراثه دی. بل بازار شور بازار و، له بالاحصاره تېرېده، چنداوله پورې رسېده. د دغو دوو بازارو نه کوڅې ویستل شوې وې. مهم ترینه برخه د تغییر د تیمور شاه په دوران کې راغلله، ځکه چې احمد شاه بابا اساس چې قندهار کې ایښی و چې څلور عمده سرکونه وو، او پس له هغه نه کوڅې بېلې شوې وې، په همدې ترتیب باندې کوڅې بېلې شوې، او مختلف نومونه دي، خرابات د مثال په توگه، گذر د قاضي، گذر د وزیر، باغ نواب، بابای خودي ... او بیا مختلفو بازارو ته چې گورئ چې د اصنافو بازارونه دي او د خدماتو، په شمول د کوچه مرده شوی ها، کوچه علي رضا خان...، چې کوچه علي رضا خان کې د مثال په توگه شیریخ یې ډېر مشهور و؛ همدغسې د مسگرانو کوڅه، د چرمگرانو کوڅه، او بیا نخاس وو، د زرگرانو بازار و. د دې په څنگ کې سرایونه وو، اول کاروانسرایونه وو چې مختلفو ځایونو کې وو د مثال په توگه د بابر باغ په څنگ کې همیشه به یو لوی کاروانسرای و، او پس له هغه نه دا په سرایونو باندې بدل شول. او کابل کې دا بازارونه د ځمکې په سطحه نه وو، دا اوچت شوي وو، یو منزل کې به بازارونه وو، دویم منزل کې به خلک اوسېدل. هندوگذر د مثال په توگه بیا هم یوه خاصه برخه وه. هغه بازارونه چې علي مردان خان جوړ کړل، پټ وو لکه د استانبول بازار غوندې یا د تبریز بازار غوندې یا د اصفهان بازار غوندې، اما ښه والي یې په دې کې و چې څلور ځایو کې اسمان ته یې منبرونه درلودل او هلته به کوتوالان او دا اوسېدل. که وگورئ کاه فروشي ته یا کتاب فروشي ته، دا برخې موجودې وې تر ډېرو آخرو پورې، تر د داود خان د جمهوریت پورې، بیا پس ته هغه خوا ته د سیند لومړۍ برخه ده افغانان وه چې خلک ورته ووتل. دا هم د شېرعلي خان په دوران کې تثبیته ده چې دلته و او نوره برخه د دې باغونه وو او ډېر لوی باغونه وو. د بابر له دوران نه حداقل د ۷ لویو باغونو نومونه دي. بله لویه برخه خیابان نومېده چې له بالاحصاره تر بي‌بي مهرو پورې تله او هلته د آسونو مسابقې به وې او لویه برخه وه او د هغه په شاوخوا کې هم لوی باغونه وو چې دا اوسنی دلکشا شاید د بابر له دوران نه او حداقل په یقین باندې د زمان شاه له دوران نه تداوم یې درلود.

جنبش: دې لپاره چې ځوان اورېدونکي زموږ وپوهېږي، دا کوم نومونه چې تاسې یاد کړل، غیر له اندرابي او ده افغانانو نه، که تاسې په دهمزنگ کې ودرېږئ د سیند، د کابل سیند سره دغه زیاتې کوڅې ښي لاس ته راځي، دا د چپ لاس برخه وروسته را مخ ته شوه او رامنځته شوه، دا نظر سهي دی؟

دکتور غنی: بالکل، ځکه کابل ۷ دروازې درلودې او دهمزنگ یې یوه دروازه وه او دهمزنگ کې به دېوالونه د اسمایي په غره باندې او د شېردروازه په غره باندې دا به سره یو شول، غر نه چې راتلئ ښي لاس کې به مو ښار و، چپ لاس

کې بیا پس ته پلونه آباد شول او د پلونو نه تېرېدل، یو یې یک پیسه گی پُل باندې مشهور و ځکه چې خلکو نه یې یوه پیسه اخیستله. دا دویمه برخه امیر شیرعلي خان په اساسي توگه شیرپور یې جوړ کړ او انگرېزان چې راغلل مطلق باور یې نه کاوه، ځکه چې شیرپور ډېر پراخ و، تقریباً څلورنیم میله دا پراخ و او مفکوره دا وه چې دا به د بي‌بي مهرو په تپو باندې وگرځي. هغه برخه نه وه خلاصه شوې، ځاه گانې کیندل شوې وې، اوبه پیدا شوې وې چې د بي بي مهرو تپې په دامنې کې نوي قصرونه جوړ شي، بیا پس ته چې عبدالرحمن خان راغی، دی ۷ کاله باغ بابر کې و، نو دا حرم سرای د باغ بابر چې جوړ شوی، ده اساس یې کېښود چې بیا ترمیم شو پس ته...

جنبش: قصر ملکې په نامه...

دکتور غنی: د قصر ملکې په نامه چې دی، دا اصلاً ۷ کاله دلته و، په دغه دوران کې د دې پر ځای چې طرحه د امیر شېرعلي خان تعقیب کړي، نژدې تر شو سیند ته او د اوسني ارگ اساس [یې کېښود]، اما اوسنی ارگ ډېر پراخه و، تر پل محمود خانه پورې، یعنې اوسنی وزارت دفاع، اوسنی وزارت خارجه، او هغه خوا ته چې سفارت د ترکیه او ایران او دا دي ... دا ټول په ارگ کې شامل وو. خاصتاً د امیر حبیب الله خان په دوران کې، اما ډېر په اساسي توگه د امیر امان الله خان په دوران کې ساحې بېلې شولې، هغه یې د ایران سفارت او د ترکیې سفارت ته امیر امان الله خان وباښه، او وزارت خارجه له دې نه بېل شو. او بیا نادر خان په دورې کې یوه برخه د ارگ د ده کورنۍ باندې بدله شوه، چې د محمد هاشم خان کور و له یوې خوا نه یې، او بلې خوا نه یې د ده د خوریي اسد الله خان او د ده د خپلوان شیرزاد کورنۍ ته بېل شوي وو چې هلته بیا دې کورنیو فرانسې سفارت باندې، د اماراتو په سفارت باندې او د چین سفارت باندې خرڅ کړل.

جنبش: استاده د کابل کوڅې هم یوه بېله جغرافیه ده، سره د دې چې اوږده کلونه په کې و اوسېدلم، مگر بیا هم یعنې که دروغ نه شي د کابل ټولې کوڅې نه پېژنم چې خرابات چېرته دی، کاه فروشي چېرته ده، کوچه مرده شوی‌ها چېرته ده، گذر هندوها چېرته دی، مثلاً دې خوا اندرابي چېرته ده، جوی‌شیر چېرته دی، ده افغانان خو مشهور دي. د دې لپاره چې دا د اوسني ځوانان د کابل د ښار په لرغوني او تاریخي جوړښت باندې وپوهېږي، یو څه نومونه راغلل، که ممکنه شوه د خپرونې په اوږدو کې به یې په نورو باندې هم وغږېږو. معمولاً هغه څوک چې کابل کې زېږېدلي دي یا یې کابل اصلي ځای دی، له یوې یا بلې کوڅې سره رابطه لري، ستاسې څنگه؟ کومې کوڅې سره ستاسې رابطه وه؟

دکتور غنی: زموږ رابطه درېیو برخو کې وه: یو د فورمولیانو کوڅه، بله چې پلرنې نظر نه هلته روابط لرو او په حدود د ۲۰۰ کاله کم له کمه هلته مو کور و؛ بل کوچه وزیر و چې زما مورنۍ برخه ده؛ بیا باغ نواب او بابای خودي وو، چې زما د پلار د ترونو ځایونه هلته وو؛ او بیا کوچه قاضي او دې کې چې نور خپل او خپلوان مو وو او بیا باغ علي مردان و چې هلته زما د پلار عمه گانې واده شوې وې، نو اساس مو په همدې کوڅو کې و. د دې کوڅو خاصیت ډېر خاص و، هره کوڅه هم یوه کلا وه او دې ته یې کوچه بندي ویل، ځکه جنگ به چې شو او مخصوصاً هغه حالت ته یې

چې پادشاه گردشي ویلې، یا به بغاوت وشو، نو بیا به کوڅې وتړل شوې. بله برخه یې دا وه چې ډېر ژور ټولنیز مناسبات وو زاړه ښار کې. ټولو خلکو یو بل سره پېژندل په نسلونو نظر نه، او له دې نظر نه، یو بل سره یې ارتباطونه درلودل، ګډې هدیرې وې، جوماتونه وو، خاصتاً د شوربازار جومات، د چوب فروشي جومات، پل‌خشتي او شاه دوشمشېرې جومات، شاه شهید په دې کې، زیارتونه او دې... دا ټول یو بل یې سره تړل. خاصتاً صوفي طریقو یو بل پوښښ درلود چې دا ټوله ساحه یې یو بل سره تړله.

جنبش: این کوچه‌ها و این تاسیسات و خانه‌ها و اینهایی را که تذکر دادید، از نظر ملکیت این به افراد تعلق داشت، یعنی ملکیت زمین یا جایداد با کی بود؟

دکتور غنی: تعمیر هایی که در بالاحصار وجود داشت ملکیت مشترک دولت و افراد بود. بدین معنی که افراد خاصتاً سردارهای بزرگ و خوانینی که در داخل بالاحصار برای شان اجازه داده شده بود می توانستند آبادی کنند، اما این پس از دوران امیر دوست محمد خان است. قبل از آن وجود نداشت؛ اما بدون اجازه پادشاه وقت یا امیر نمی توانستند ملکیت را انتقال بدهند، باقی ملکیت، ملکیت شخصی بود. و بابر این را به صورت واضح تشریح میدهد، طور مثال می گوید که در استالف کاکای او الغ بیگ یک باغ را به زور گرفته بود و بابر پول را پس داد، و وقتیکه تیمور شاه آمد و سردارهای بزرگ درانی همرایش حرکت کردند، اینها با یک سرمایه بسیار بزرگ آمدند و یک قسمت زیاد زمین را خریداری کردند. در پهلوی این، همیشه در این پنج قرن جایداد دولتی وجود داشت که به نام خالصه یاد میشد، و خالصه یک بخش از جایداد های بود که دوامدار بود، قسمت دیگر این خاصتاً جایداد هایی بود که پادشاه وقت آنرا غصب میکرد. وقتیکه یک خاندان بزرگ یا یک افسر بزرگش از نگاهش نزول میکرد یا جرمی را مرتکب میشد، همرایش، نه تنها او برطرف میشد، بلکه جایدادش ضبط میشد، و این خاصتاً در دوران امیر عبدالرحمن خان به اوجش رسیده بود. از این جهت، جایدادهایی که ضبط میشد این یک نقطه دیگر است. و در پهلوی این، جایداد های وقفی وجود داشت به صورت عمومی در افغانستان تا سال ۱۸۸۵ شاید تا حدود ۳۰٪ اراضی افغانستان در وقف بوده باشد. طور مثال شینه که در ساحه کمری وجود دارد یک وقفی بود که ۴۰۰ سال دوام کرد از خواجه احرار، یکی از بزرگ‌های نقشبندی بود.

جنبش: در عین حال یک سلسله نام‌هایی هست که نشان میدهد بخشی از شهر باید قلعه‌هایی بوده باشد مثلاً قلعه موسی، قلعه فتح‌الله، قلعه وزیر وغیره... در این مورد تاریخ چی میگوید که این قلعه‌ها از کجا شروع شده بوده و به کی‌ها ارتباط داشت؟

دکتور غنی: این قلعه‌ها به صورت واضح جز هویت شهر بود، چون شهر یک تعریف دیگر دارد که به نام شش کروهی یاد میشد. و این ساحه شش کروهی بود که اکثر کسانیکه جایداد های بزرگ داشتند، در این ساحه هم قلعه داشتند، هم باغ داشتند و هم زمین‌های زراعتی داشتند. یک عده اینها خاصتاً که با تیمور شاه آمدند سر کاریزها سرمایه‌گذاری

بسیار بزرگ کردند و در پهلوی این قلعه‌ها در نقاطی که فعلاً ولسوالی های کابل را در شمال، شرق، جنوب و غرب تشکیل میدهد هم وجود داشت. ساحه نزدیک بود، طور مثال پُل محمود خان قلعه محمود خان بیات وجود داشت، قلعه سرور خان در ساحه فعلی مکروریان‌ها تا ایجاد مکروریان ها وجود داشت و هر طرف را که ببینید، قلعه درانی به طرف غرب وجود داشت، و قلعه‌های دیگری بود که تا لوگر از یک طرف و تا میدان وردگ و غزنی و اینها می رسید، و همه اینها جز ساختار کابل بود. ساحه موسهی چهارآسیاب همه اینها... و فراموش نکنید قسمت زیاد شمال دریای کابل تا ساحه فعلی کوتل خیرخانه و ساحه خیرخانه نقاط بزرگ زراعتی بود و ساحه سبز بود که از بالاحصار دیده میشد، اما در بین اینها قلعه‌ها و قصرهای کوچک و اینها وجود داشت.

جنبش: د کابل هدیرې هم استاده یو بل بحث دی یا یو بیل فصل دی، مشهور نومونه لري، ځینې یې ښایي ډېر لرغوني وي، خو پوښتنه مې دا ده چې ولې دغه ټولې هدیرې لویې، چې له پخوا زمانې نه را پاتې دي، د لویدیځ خوا نه چې ورته وګورئ، د سیند په ښۍ خوا کې راځي، ایا دلیل یې دا دی چې ښار همدغلته و که دلته ځمکې ډېرې وې؟

دکتور غنی: اول مهم ترینه هدیره تمیم د انصار ده چې بالاحصار په شاوخوا کې ده او د بالاحصار لاندې په جنوب کې ده. شاه‌شهید هم او شاه‌شهید واضح په یوې محلي باندې هم مشهور و. بله برخه د آسمایي ده چې پُل آب چکان و او هغه بیا په شمال د غره کې ده. پُل آب چکان له آسمایي غره نه چې هغه خوا ته ځئ هلته ده. عاشقان و عارفان زیارت و، د مجددي کورنۍ حضرات زیاتره هلته دفن شوي دي، په شمول د حضرت صبغت الله مجددي. ډېرې هدیرې د بالاحصار په طول کې دي، له بالاحصار نه ښکته چې ګورئ قول حشمت خان په دوام کې دي.

جنبش: و حالا که به بالاحصار دوباره رسیدیم، همانطور که قبلاً اشاره شد بیایید متمرکز شویم روی ساختمان این، اخیراً که من از کابل دیدن کردم رفتم و چند برنامه هم از آنجا ساختم، کارهایی در آنجا جریان دارد، برخی از مرمت کاری از زمان شما آنجا بوده، برخې کارهای باستان شناسی جریان دارد، این بالاحصار به کدام زمان‌ها بر می گردد و از چی تاریخی گذشته؟

دکتور غنی: بالاحصار حد اقل، استاد کهزاد به این عقیده بود که به قرن هفت میلادی میرود، دوره یفتلیان، اما کاوش‌هایی که صورت گرفته بود مخصوصاً پنج یا شش سال پیش، آثار دوره هخامنشی هم پیدا شده در بالاحصار. از این جهت من فکر می کنم که بالاحصار به مراتب قدیمی تر است. از بابر به بعد، وقتیکه بابر به کابل میآید، بالاحصار مطلق موجود بود و زلزله بسیار بزرگی که در کابل صورت گرفت بعد از چند سالیکه بابر در کابل بود یک قسمت زیاد این ضرورت به مرمت کار داشت، ترمیم این در چند ماه صورت گرفت. زلزله یکی از خطرناک ترین زلزله‌های بود که در کابل صورت گرفت که در عین حال تنها در یک روز نبود، به یک ماه کابل می لرزید.

جنبش: برگردیم به بالاحصار وعده کرده بودیم که این را به تفصیل معرفی میکنیم که از کدام بخش‌ها ساخته شده بود و انگلیس‌ها چرا را این را ویران کردند؟

دکتور غنی: مراحل مختلفش را باید ببینید، تمام پادشاه‌های بزرگ مغلی یا در بالاحصار تربیه شدند مثل همایون و اکبر واری، یا از بالاحصار گذشت کردند یا در آنجا بودند یا برای آبادی آن یک سلسله اقداماتی انجام داده بودند. آخرین پادشاهی که برای مرمت این و تغییر بنیادی این هدایت داد شاه‌جهان بود. بالاحصار در کوه است، آب از کجا می آمد؟ این آب بر اساس شاهدی بابر در دوران کاکای او الغ بیگ توسط ویس اکه که موسس ویسل آباد است این جوی بالا از دریا کشیده شد، سرتاسر بالاحصار آمد و این جوی معلومدار، من به چشم خود در دروان طفلی ام آنرا دیده ام، بالاحصار را آب دوامدار میداد. پهلوی این، سه چشمه بزرگ بود. چشمه خضر بسیار مشهور بود، چشمه صفا، و یک چشمه دیگر بود. بابر میخواست در بین اینها یک باغ آباد کند. در دوران طفلی من چشمه خضر و چشمه صفا تفریح‌گاه‌های مردم کابل بود. از این جهت یک ساحه بالاحصار به صورت دوامدار تا سال ۱۸۷۹ که انگلیس‌ها آنرا تخریب کردند، باغ‌ها بود. ساحه دیگر این قصرها بود، قصرهای دوران مغلی خاصتاً از علی مردان خان که در هر جاییکه رفته آبادی های بزرگ [کرده بود] و یکی از بزرگترین انجنیرهای دوران خود بود، متاسفانه باقی نمانده. نکته دیگر آن که ما سرش اسناد داریم، اینست که تیمور شاه و بعد از آن زمان شاه اساس یک قسمت قصرها را گذاشتند و این قصرها به طرف شمال می دید، یعنی منظرگاه اینها به طرف شمال بود. این ساحه باغات وسیع را به شمول جاییکه مقبره تیمور شاه قرار دارد این هم از جمله باغ‌هایش بود که بعداً به باغ عمومی بدل شد اما بنام چارباغ و باغ‌های دیگری وجود داشت. و در پهلوی این یک مسجد بسیار بزرگ به نام مسجد شاه وجود داشت، و احتمال زیاد دارد که یک سلام‌خانه بزرگ در این زمان وجود داشته باشد. وقتیکه امیر دوست محمد خان آمد متاسفانه یک قسمت تعمیرها را از بین برد و یک قسمت عمده این تعمیرات را ترمیم و توجه برایش نشد. و در اینجا دو تخت هم وجود داشت. که در یکی این تخت‌ها هم تصویر شاه شجاع را می بینید هم تصویر امیر دوست محمد خان را که سر تخت‌های مرمرین نشسته اند، و تخت دیگرش در دوران بابر وجود داشت که آن میله‌های خود را در آن بخش صورت میداد. در زمان امیر شیرعلی خان یک چبوتره بزرگ که به طرف جنوب میدید و طرف قول حشمت خان ایجاد شده بود، وقتیکه شاه شجاع بعد از ۳۰ سال آمد، یکی از انگلیس‌هایی که همسفر او بود و هم رکاب او بود نوشته میکند که وقتیکه قصرها را دید و باغ‌ها را دید به گریان شد. در دوران جنگ اول افغان و انگلیس به بالاحصار صدمه زده نشد، و تصمیم گرفتند که بالاحصار را تخریب نکنند، اما چهارچته را چور کردند و چهارچته را آتش زدند، بازارهای کابل را آتش زدند و هم امر چور دادند. در مرحله دوم در جنگ دوم افغان – انگلیس و یک کتاب جنرال رابرتس پیش روی من است، قوماندان عسکری که اول امیر محمد یعقوب خان را در گندمک مجبور به معاهده گندمک کرد، و در مرحله دوم میخواست که محمد یعقوب خان همراه او به بالاحصار برود که این کُل امر توبیخ شهر را از خاطر مقاومتی که در چهارآسیاب صورت گرفته بود و سزایی را که برای کابل تعیین میکند همرایش برود، امیر محمد یعقوب خان پای خود را کشید و استعفی خود را اعلان کرد، این هم بر اکثریت تاریخ دانهای ما بدبختانه روشن نبوده. جنرال رابرتس تشریح میدهد که از خاطر این که از ملت افغان انتقام بگیرد، تصمیم بر این گرفت که باید بالاحصار تخریب شود، اکثر تاریخ دانهای ما این را این رقم تعبیر کردند که انفجار بالاحصار موجب تخریب بالاحصار شد، در آنجا

واقعاً در حدود ۲۵۰ تُن باروت وجود داشت بر اساس تخمین جنرال رابرتس، و انفجار صورت گرفت، اما انفجار تمام بالاحصار را از بین نبرد. به اساس امر رابرتس تمام قصرها از بین رفت، چوب و شیشه و ابعاد دیگر این را که مورد ضرورت اینها بود، آنرا انتقال دادند به شیرپور به محافظت خود. تصمیم رابرتس واضح بود که باید افغانستان تجزیه شود، آن یک افغانستان واحد را نمی خواست و قیام غازی‌های کابل و بعد از آن شکست انگلیس‌ها در میوند بود که تاریخ را دوباره تغییر داد و از این طرح شوم جلوگیری کرد. اما توضیحاتی که رابرتس میدهد واضح است که او میخواست که سمبول قدرت افغانستان را محو کند. و یکی از اهداف من به صورت واضح این بود که یک قسمت بالاحصار را خاصتاً سلام‌خانه را، مسجد شاهی را و چند بخش دیگر این را به صورت اساسی ما آباد کنیم و همچنین چند باغ را، و قسمت دیگر این را به حیث یک پارک انکشافات باستان شناسی تخصیص بدهیم.

جنبش: دې لپاره چې زموږ دا ځوان اورېدونکي پوه شي جنرال رابرتس هماغسې چې تاسې تشریح کړه د برتانیایي ځواکونو قوماندان و په دویمه افغان انګلیس جګړه کې، په زړه پورې دا ده چې محمود طرزی له دغه سړي سره، دغه جنرال سره چې وروسته فیلډ مارشال شوی دی، لارډ شوی دی او د مشرانو جرګې غړی شوی دی، یوه قلمي جګړه لري په سراج‌الاخبار کې. یوه ډېره تونده مقاله یې د هغه په ضد لیکلې ده، حتی ورته یې ویلي دي چې، که غیرت درته معلوم شوی نه وي راځه چې بیا یې سره معلومه کړو. او علت یې دا و چې هماغه وخت کې ده، فکر کوم د برتانیا پارلمان ته کومه طرحه وړاندې کړې وه چې د اوسپنې یوه پټلۍ له بغداد نه را پیل کړي په فارس یې را واړوي او په قندهار یې تېره کړي، همداسې بلوچستان ته. فکر کوم په کابل کې د دې طرحې پر وړاندې دا اندېښنه پیدا شوې وه چې کېدای شي انګرېزان غواړي د اورګاډي د تېرولو په پلمه قندهار جدا کړي او دا مقاله د محمود طرزي ډېره غندونکې او چیچونکې ده، یو عجیب تمثیل لري او په خورا لوړو ادبیاتو لیکل شوې ده، او نتیجه یې دا ده چې انګرېزانو ته وایي چې هر څه وکړئ، دغه پټلۍ به په افغانستان باندې تېرېدو ته موږ پرې نه ږدو. زما هیله دا ده چې ځوانان د رابرتس دغه کتاب چې تاسې ورته اشاره وکړه پیدا کړي او دغه راز د سراج الاخبار همدغې مقالې ته چې اوس له نېکه مرغه په پښتو هم شته مراجعه وکړي، خپل هیواد او په تېره خپل کابل ښار سم وپېژني. را به شو بېرته اصلي مسایلو د کابل د ښار ته، اوسېدونکو په باره کې یې تاریخي اسناد څه وایي چې څومره به وو، بیا هم سراج‌الاخبار متن ته اشاره وکړم چې طرزي ځای ځای د نفوسو یادونه د شلمې پېړۍ په پیل کې کوي، کله سل زره یادوي، کله تر دې لږ کم کله تر دې لږ پورته، څومره به و او کومو قومونو په کې ژوند کاوه؟

دکتور غني: مخکې له دې نه چې دې برخې ته راشوو، همدومره یو وضاحت په کار دی، رابرتس ته د انګرېز دولت پس له دې نه چې قندهار یې ونیوه او ایوب خان ته یې ماته ورکړه، لقب د لارډ ورکړ. پس له هغه نه قوماندان اعلی د هندوستان د امپراتورۍ شو او پس له هغه نه فیلډ مارشال د ټول انګلستان شو. او ده غوښتل خاصتاً راشي مخکې له ډیورنډ نه او عبدالرحمن خان سره وګوري، عبدالرحمن خان دا ونه مانه، ځکه رابرتس غوښتل چې جلال‌اباد ته د ده لیدلو لپاره راشي او امیر وویل چې ناجوړه دی، دا سړی قندهار یې غوښتل بېل کړي. اما بل خاصتاً تاکید د رابرتس دا

و چې باید د رېل پټلۍ راشي او لوی ترینه پانګه رابرټس د ریل په پټلۍ کې ورکړله. چمن ته د رېل رسول او پېښور ته تر لنډی کوتله پورې د رېل پټلۍ رسول د رابرټس آثار دي، ځکه د بولان د رېل پټلۍ. په هغه وخت کې نړۍ کې له ټولو نه ګران د رېل پټلۍ ضروریات وو. او د رابرټ خبره په دې کې وه، او ټولو انګرېزانو چې حتماً بیا به افغانستان باندې دوی برید کوي او بې د رېل له پټلۍ نه مصارف د ترانسپورټ به زښت ډېر وي. دواړو جګړو کې مصارف د ترانسپورټ بې‌حده اوچت وو. نو دا ځوانان دې په دې برخې کې هم وګوري، زه به غوښتنه وکړم چې د رابرټ د کتابونو پي ډي اف زموږ په ویب سایټ کې کېږدي چې ځوانان وکړای شي هغه په دقت وګوري خپله.

جنبش: هو بلې، دا به ډېر ښه سند شي چې د دې پودکاست سره یې نشر کړو د رابرټس د کتاب او په عین حال کې …

دکتور غنی: وژباړو، مخصوصاً یو دوه فصله یې دي چې که وژباړل شي خلکو ته به ډېره ګټوره وي.

جنبش: او بېرته چې لاړ شوو د نفوسو موضوع ته.

دکتور غنی: تخمین د نفوس د کابل یو چا چې په ډېر دقت وکړ، یو نفر و چارلز مسان نومېده. دی اصلاً انګرېز و، دا یې دویم نوم و، اصلي نوم یې بل شی و، لویس نومېده، هغه باندې یو انګرېز سفیر کتاب لیکلی، هغه شپږ کاله په کابل کې تېر کړل او باقي افغانستان باندې او فرق یې دا و چې هغه لکه یو فقیر غوندې قافلو کې په پښو ګرځېده. دې سړي تخمین دا و چې څو پېړۍ د کابل نفوس په حدود د ۲۰ زره نفره و، له بابر نه نیولې تر تیمور شاه پورې. او د نولسمې پېړۍ درېیمې لسیزې کې د ده تخمین په حدود د ٦۰ زرو دی. هغه احصائیه چې مرحوم طرزی ورته اشاره کوي، په اساس د یوې احصائیې اېښودل شوې، عبدالرحمن خان د سراج التواریخ په استناد باندې، یوه احصائیه ونیوله د دې احصائیې په اساس باندې تقریباً ۱۰۰ زره نفوس و، دا بار بار تکرار شوې. فیض محمد کتاب ژمنه کړې وه چې په بل ټوک کې به د دې احصائیې تفصیل ورکړي، مګر تر څو چې ما وکتل چې څلورم او پنځم ټوک یې چې خپاره شوي دي، د دې ترتیبات نشته، اما احصائیه نیول شوې وه. د کابل اقوام، یعنې یو بین‌المللي ښار و، اوله برخه اقلیتو ته ګورئ، ارمنیانو په بالاحصار کې هم خپل ځای درلود او نه یوازې خپل ځای یې درلود، کلیسا یې درلوده او ډېر په عزت ورته کتل کېدل. دویم یهودان وو، درېیم هندوان او څلورم سکهان. دغه څلور مذهبي اقلیتونه اهمیت یې په حوالې باندې و، هغه حواله چې اوس په سرای شهزاده او دې نورو کې ده. او د افغانستان هندانو ډېرې نږدې اړیکې شکارپور سره درلودې. د شکارپور اهمیت په څه کې دی؟ شکارپور د ټولې دراني امپراتورۍ د بانکدارۍ مرکز و، او پس له هغه نه چې دراني امپراتوري کمزورې شوه او د سکهـ دولت جوړ شو، دوی امرتسر ته لاړل، اما حساب یې آن تر نیویارک پورې د شلمې پېړۍ په ابتدا کې رسېدلی و.

دویمه برخه قزلباش دي، یوه برخه له نادر افشار سره راغلي وو، اما ډېره برخه یې شاهي ګارد د تیمور شاه و، او پس له هغه نه دې دوام وکړ د امیر شیرعلي خان په دوران کې هم سپه‌سالار له دوی نه راغلي دي. او دوی خپل خاص تشکیل په چنداول کې درلود. د مسان په تخمین باندې د کابل، یعنې هغه محدود کابل چې د دهمزنګ او آسمايي او

شېردروازې په برخې کې و، یو دربیمه برخه قزلباش وو، او دوی د لویو جایدادونو څښتن وو، غزني خوا ته، لوګر خوا ته او بیا بهسود او دا د مرکزي افغانستان هزاره‌جات، دې ته لاړل او په عین حال کې شمالي او نورو برخو کې یې جایداد درلوده.

بله برخه درانی خوانین وو چې له کندهار نه راغلل، تیمور شاه نه تر ختم د سدوزیو د حکومت اصول دا وو چې دا ټول خوانین باید په مرکز کې ووسي او د پادشاه په حضور کې اوسي، ځکه ده نه غوښتل چې نور حوادث راشي. د دوی القاب حفظ وو، اما د دې په څنګ کې تیمور شاه نور القاب اضافه کړل. د ده لوی مشاور د صدراعظم حیثیت یې درلوده، یو قاضي و چې ازبک و او د قاضي کوڅه له دې نه پاتې ده. په دې حساب پښتنو ته چې ګورئ، پښتنو له ټولو برخو د افغانستان نه دلته حضور درلود، او د امیر شېرعلي خان په برخه کې خاصتاً، ځکه چې دده کابینه یوه ډېره لویه برخه له غلځیو نه جوړه شوې وه، لوی خانان په شاوخوا د ارګ کې مېشته شول او جایدادونه او دا یې پیدا کړل. بله برخه کاروانونه دي او کارونسرایونو او دې ته چې ګورئ، دا دوه برخې دي: یو د کوچیانو چې پوونده یې ورته ویلې د هغوی کلني سفرونه وو چې هندوستان ته تلل او پس له دې نه چې د رېل پټلۍ راغلله دوی به دیره غازي خان او دیره اسماعیل خان ته تلل او هغه ځای نه به تر بنګال او نیپال پورې رسېدل او له بلې خوا نه بخارا او دې ته تلل. بله برخه ترک ژبي دي، کُردان دي، اندرابي د مثال په توګه، ریکاخانه یې چې ورته ویلې دا برخه د افغانستان له کُردانو نه تشکیل شوې وه. ایماق دي چې له مختلفو برخو نه راغلي دي. یعنې کابل همیشه یوه ملي زانګو وه له هغه نظر نه او له بلې خوا نه، بین‌المللي د تجارت مرکز و، بابر په واضح توګه تشریح کوي چې له هندوستان نه، خراسان نه، له هغه خوا نه، تر بغداد و دې پورې دا تجارت دی، د مثال په توګه د وزیر شاه ولي خان یو قسمت جایداد په بغداد کې و، بله برخه یې په بمبئي کې وه. ډېرو لویو سلسلو سره کابل تړلی و.

جنبش: نو په دې حساب آیا ویلی شوو چې کابل یو شتمن ښار و؟ له اقتصادي پلوه یې وضعیت څنګه و؟

دکتور غنی: شتمني په څو برخو کې ده جنبش صاحب، که تر نولسمې پېړۍ پورې راځو. لومړۍ یوه برخه د شتمنۍ ده چې د دراني امپراتورۍ په دوران کې ده، یعنې تر ۱۸۱۸ پورې چې وزیر فتح خان وژل کېږي او ورونه یې طغیان کوي، تر هغه وخته پورې کابل بډایه و، ځکه څه غنیمت له یو خوا نه چې احمد شاه بابا له خپلو حملاتو او دې نه راوړی و او له بلې خوا نه، مه هېروئ چې کشمیر، سندھ، یوه ډېره برخه د پنجاب د دراني امپراتورۍ برخې وې. مالیات تر ډېره حده پورې به له شرقي ولایاتو نه راتلل، او عسکر له غربي برخې نه، یعنې اوسني افغانستان نه، د مرحوم فوفلزایي کتاب ته که وګورئ، یوه برخه کې د یوه واده اسناد دي او پوهېږئ چې واده کې چې جهیز د یوې جینۍ که په یاد مې وي ۷ منه سپین زر وو او سره زر. او هرې کورنۍ به چې د دې سردارانو واده کاوه، کور به یې بېل شو او خاص امکانات یې درلودل. نو دا د وفرت وخت دی د لویو کورنیو، خاندانونو او دا چې ورته وایي، اما دا چې د کابل د وګړو ژوند په څه رقم و، هغه بله خبره ده. اما ویلی شوو چې دلته، ځکه چې پیسې ډېرې وې او امکانات ډېر وو او هم دربار بې‌حده مفشن و. که د الفنتسن کتاب ته وګورئ، وختې چې شاه شجاع سره ګوري، شاه شجاع چې ننوځي دربار ته، سر تر

پایه دی په جواهرو باندې [سینګار] دی او لکه لمر غوندې برېښي، نو دا تشریفاتي دربار و. دا رقم تشریفاتو کې مصارف دي او خاص کالي او دا دي. دویمې دورې ته چې پس له ۱۸۲۶ چې دوست محمد خان قوت نیسي، د کابل د بربادۍ دوران دی، کابل باندې ګولۍ چلېږي، بالاحصار د مثال په توګه د مسو یو ګبند درلوده چې د سیاه‌سنګ او بتخاک او دې نه ښکارېده، د سردار محمد عظیم خان زوی دا ویلي کړ، فکر یې کاوه چې دې کې به څه طلا وي. هر وار چې کابل کې پاچا ګردشي شوې، د کابل خلکو صدمه لیدلې او دا څو واړې شوله. بیا د دوست محمد خان لومړی دوره ده او دې کې دی ډېر خوار و ځکه چې کابل وړوکی شو او عواید یې بې حده کم وو او ټوله توجه یې په دې کې وه چې څنګه خپل حکومت پراخ کړي، حتی د شمالي ډنډ د دې برخه نه وه. ورور یې امیر محمد خان و، لغمان خو پوهېږئ چې زښت ډېر سرداران وو، ننګرهار او دا ټول او قندهار کې خو ده ته یې نظر نه کاوه هغه خوا ته؛ نو دې دوران کې کابل کې پرېماني نشته. له څنګ د دې نه، دوو نورو شیانو ته ګورئ، یو کولرا وه، کولرا په دومداره توګه په دې پېړیو کې کابل باندې راغله، او بل قحطي وه، ځینې کلونه چې باران نه کېده شمال د افغانستان کې یا قندهار کې یا دې کې به [قحطي وه]، ځکه د ترانسپورت امکانات نه وو، نو له هغه نظر نه دې ابعادو کې چې وګورئ، سخت کلونه دي. او بیا چې عبدالرحمن خان دوران ته راځئ د ډار کلونه دي. عبدالرحمن خان یو نظام راوړ چې هېڅ کورنۍ کې دوی مېلمستیا نه شوه کولای او نور یې مېلمانه کولای نه شول، غیر له دې نه چې د دوی خدمتګاران په جلسې کې شامل اوسي. او ټولو کورنیو کې ده مخفي ضبط احوالات درلود چې د روسانو زاري سیستم یې په افغانستان کې [جوړ کړی و]، او خلک ترې بې‌حده ډارېدل. او خاصتاً چې شپې کې چې کوم کور باندې ټک ټک کېده، بیا نو یقین نه و چې نفر چې لاړ شي سبا به یې څوک وکړی شي پوښتنه وکړي، او په دې ترتیب باندې ډېر خلک یا تبعید شول یا له منځه لاړل. خاصتاً هغه شخصیتونه لکه محمد جان خان وردګ چې واقعاً د افغانستان د استقلال په ګټلو کې دوی ډېر ستر رول درلود یا نور... نو دې دوران کې د ډار او د اختناق دوران دی. د ده زامن د ده پښو لاندې لوېدل او که کومه مېلسمتیا او دا به یې کوله بې د اجازې له دې نه، ډېر سخت به توبیخ کېدل. هرې مرحلې کې باید راشوو چې وضعیت د ژوند څنګه و او په څه ترتیب باندې و.

جنبش: و زندگی فرهنگی هرچند تصویر کاملی باز هم شاید وجود نداشته باشد، اما از اشعار شاعرهای مختلف و از اسناد نثری و مکتوبی بسیار محدودی که وجود دارد، آدم میتواند حدس بزند که یک شهر زیبا، یک شهر سرسبز، یک شهر بالنده و پرجوش و مست است.

دکتور غنی: تا زمان امیر عبدالرحمن خان که شهر به اختناق بدل شد، شهر واقعاً یک شهر بسیار زنده بود. فراموش نکنید که بابر دو جنبه دارد، یک جنبه اش یک آدم مست و نویسنده، شاعر، سخنور و از طرف دیگر کسی بود که کله منار ساخت، خاصتاً در بین هزاره‌های ترکمن ما و در بین قبایل پشتون و همچنین ایماق، اما بابر مست امروز در تاریخ مانده و ابعاد دیگر آن بعداً فراموش میشود. هر دو جنبه است و از شخصیت مغل خاصتاً باید از دارا شکوه نام بگیرید. دارا شکوه آن فرزند شاه‌جهان بود و برادر اورنگزیب که نه تنها عربی و دری و چغتایی را میفهمید، بلکه

سانسکریت را یاد گرفت. دربار او همیشه یکی از دربارهای فرهنگی بزرگ بود. تیمور شاه بر اساس روایت الفنستن همیشه شب‌های جمعه به تعقیب احمد شاه بابای بزرگ مجالس همراه علما میداشت، در بالاحصار. این که آیا این سلسله دوام کرد بعد آز ان در سلاطین دیگر درانی، وضاحت وجود ندارد، از خاطریکه خاصتاً شاه محمود آدم بسیار عیاش بود و مجالس بزم داشت تا مجالس ادبی، اما شاه‌شجاع دیوان دارد، تیمور شاه هم دیوان دارد در دری، شاه شجاع هم دیوان دارد، و احمدشاه بابا معلومدار هم در پشتو هم د دری دیوان دارد. سلسله فرهنگی را در سالهای امیر شیرعلی خان در خاطرات مرحوم محمود طرزی که بدبختانه تنها تا دوران برآمدن او از افغانستان و اعلان حکومت امیر عبدالرحمن خان میشود ببینید، که مجالس ادبی که تشکیل میشد در خانه پدر او که غلام محمد خان طرزی نام داشت و آن پسر سردار رحمدل خان بود که از سردارهای قندهار بود و رحمدل خان هم شاعر بزرگ بود. از این جهت این بخش ادبیات ما در آخر قرن هجده و قرن نوزده به صورت دقیق طبقه‌بندی نشده بدبختانه، اما یک قسمت زیاد کتاب‌ها در کتابخانه های هند وجود دارد که امید است مورد دقت و توجه قرار بگیرد. و بعد این وضعیت ادبی را در شعرای بزرگ ما مثل استاد بیتاب دیده میتوانید، مرحوم قاری و شما بارها ذکر کردید، سراج‌الاخبار یک نمونه اینست اما طرز مجالس ادبی ... سردار نصرالله خان برادر امیر حبیب الله خان که حیثیت صدراعظم را داشت یک مجلس ادبی خاص سر بیدل داشت، و هر پنجشنبه سر بیدل بحث میشد و اینها تا حرف (د) رسیدند. بعد از آن خاطرات استاد خلیلی مرحوم را که ببینید، که زجر بسیار زیاد دید از خاطریکه وقتیکه پدرش را امان الله خان اعدام کرد او را اجازه مکتب نداد، اما سلسله ارتباطات را به صورت واضح دیده می توانید که بعد از محمود طرزی یک حلقه خاص ادبی به وجود میاید که نه تنها بخش ادبی دارد بلکه بخش مانند جوانان ایتالوی یا جوانان ترک، جوانان افغان در محور مشروطیت از یک طرف قرار می گیرند و ادب و ادبیات را به حیث یک وسیله نهضت ملی ایجاد میکنند. محی الدین انیس در این نقش کلان داشت، عبدالرحمن لودین، عبدالهادی داوی، در پهلوی این مرحوم غبار، که به نشر اخبارات در دوران امیر امان الله خان اقدام میکنند و دوام این را. یک فرهنگ بسیار خاص و هنر و آداب بسیار خاص وجود داشت، در این حلقه‌های ما و در ادب پشتو، که هغه برخې باندې وګورئ د حمزه بابا دوو سفرنامو ته ګورئ، چې یوه یې په ۱۹۴۸ باندې په شعر باندې ده، اما دویمه یې په ۱۹۵۸ کې په نثر کې ده. او دی راځي کابل ته، ننګرهار ته راځي او پس له هغه نه کابل ته، او دا ادبي ماحول چې هغه وخت کې پوهنتون هم موجود دی، ادبیاتو فاکولته، د حقوقو پوهنځی، پښتو ټولنه او دا... دا ټول شخصیتونه او د دوی بحثونو یو خلاصه ده، چې زه فکر کوم ځوانانو ته او وطنوالو ته به په زړه پورې وي.

جنبش: حتماً، فکر کوم چې ریفرنسونه راغلل، ځوانان به ورته مراجعه وکړي، یوازې یوه لنډه یادونه مخکې له پوښتنې نه به وکړم چې موږ څو ځل د بابر نوم یاد کړ، ځوانانو ته به دا هم ور یاده کړو چې ظهیرالدین محمد بابر اصلاً د تیموري کورنۍ سره یې اړه درلوده، د اوسني ازبکستان له فرغانې نه را پورته شو او یو وخت په کابل کې واکمن و بیا همداسې د سوات او دغو سیمو لارې نه لاړ هند کې یې د مغلي امپراتورۍ بنسټ په شپاړسمه پېړۍ کې کېښود او کله

چې وفات شو هم، یعنې اوس یې قبر په کابل کې دی، ځکه کابل سره یې ډېره مینه درلوده. استاده بله پوښتنه مې د کابل د چاپېریال په باره کې ده، کومې پلټنې چې ما کړي، ډېرې خو نه دي اما څه مې چې لوستي دي د شهنامې، کابل ډېر زرغون دی، نورو متونو کې، د بابر په آثارو کې کابل ډېر شین دی، ډېر زرغون دی، او دغه وروستۍ ما څو ځله یادونه وکړه چې ډېره نه شي، سراج‌الاخبار کې محمود طرزي چې کله پغمان خوا ته ځي یا د کابل له ښار نه وځي، کوم توصیف چې دی د چهاردهي د سیمې، گذرگاه، د پغمان او دغو ځایونو کوي، تاسې فکر کوئ چې بلاتشبه یعنې جنت توصیفوي دومره ښکلا او شینوالی دی دغه کې، حتی د کابل (ک، ا، ب، ل) وایي چې دا اصلاً (آب در گل است) آب په گل کې دی، اوبه په گل کې دي، اما اوس چې ورته گورو له بده مرغه نه یې آب یعنې اوبه پاتې دي او نه گل پاتې دی، که لنډ په دې وغږېږو چې دا چاپېریال څنگه بدل شو.

دکتور غنی: لومړۍ خبره دا ده چې دا یوازې محمود طرزي نه دی، له بابر نه نیولې –او ما بابرنامه بیا ولوستله او اوس یوه انگریزې نوې ترجمه شوې ده، بابر خاصتاً په استالف باندې او استغرچ باندې مئین و، گلبهار و دې باندې بلد و، نورو برخو کې. دې خوا ته شاه‌محمود آبادي کړې وه. مخکې د بابر نه په [هغه] څوکې کې چې د هغه لاندې اوس د بابر باغ دی او هدیره یې ده، په نامه د تخت شاه باندې دا ټول غر یادېده، ځکه چې هلته یو لوی قصر یا مقبره وه، عقبین او دا نور. څه وشو؟ لومړی راشئ چې ووایو چې څه وو؟ لومړۍ خبره دا وه چې کابل کې ډېر لوی چمنونه وو، ۵ تر ۷ چمنونو حساب بابر ورکوي. اوسنۍ هوایي اډه تر ۱۸۸۰ پورې یوه وړه دریاچه غوندې وه، دا ټول ځای چمن‌زار و، د وزیرآباد چمن یې چې ورته ویلې، دلته ما خپله ښکار کړی کوچنیوالي کې، چمن ببرک یې چې ورته ویلې. دې خوا ته بگرامي کې ډېر لوی چمنونه وو. جنوب خوا ته اول خپله قول د حمشت خان و، بیا چهارآسیاب کې یو ډېر لوی قول و، او د مکروریانو په امتداد کې چې اوس وگورئ، دلته هم یو لوی قول و چې هلته هم اعلیحضرت [محمد ظاهرشاه] کشتۍ درلوده او ښکار کېده. له بدې مرغې نه دغه قولونه ټول له منځه لاړل. او د ارگ نوش ته که وگورئ چهارراهي ملک اصغر ته، دلته سراج الاخبار کې په واضح توگه راغلي چې حوض د مرغابیو و یادېده. د کابل د اوبو جریان هم د ځمکې لاندې او هم د ځمکې سر په دغو قولونو باندې تړلی و. څه چې بارانونه راتلل، دلته به ټولېدل او دلته یو ماحول و. دې ته لمده ځمکه وایي او دا لمده ځمکه اوس د علومو له نظر نه سلها میلیونه که میلیارده ډالرو باندې ارزي. دا خلکو، حکومتونو وچ کړل، اوس یو دلیل چې کابل کې سیلابونه راځي دلیل یې دا دی چې دا طبیعي لارې یې وتړلې. زه چې ولسمشر شوم سیلابونه بیا راغلل او د هغه نظر نه موږ ویالې، یو قسمت ویالې بېرته وویستلې، اما دغه ځای کې چې وزارت داخله د مثال په توگه جوړ شوی، د چاپېریال له نظر نه دا مطلق کفر دی. نو دا یې یوه برخه ده.

جنبش: دا نوی وزارت چې جوړ شوی؟

دکتور غني: دا نوی وزارت چې جوړ شوی دا...

جنبش: نو ولې اجازه ورکول کېدله فکر کوئ؟ ولې دا پلان...

دکتور غنی: هر څوک راتلل هر څه یې چې کول، زه چې راغلم نیم کار تمام شوی و، ما چې امریکاییانو ته وویل چې دا ودروئ، پس د هغه نه هغوی څو سوه میلیونه ډالر قرارداد کړی و. له بدې مرغې نه د کابل چاپېریال څښتن نه درلوده او د کابل چاپېریال باید څښتن پیدا کړي، ځکه ټول ژوند په دې تړلی دی. دویمه برخه که وګورئ د کابل باغونه له منځه لاړل. څه پاتې دي؟ پارک زرنګار او پارک شهرنو! د وزیر اکبر خان پارک غصب نه شو؟! اسناد یې باید خلک وګوري. دا څنګه و چې شیرپور او وزیر اکبر خان د څو بدنامو کسانو له خوا ووېشل شو. باغ بالا لاندې چې کارته پروان جوړېده، دا ساحه یو بهترین باغونو ساحه وه. درېیم، شش‌کروهي د کابل ټوله شنه وه او شش‌کروهي اوس ټوله له منځه لاړه، ټول تعمیرونه شول، ځکه دومره ظرفیت نه و چې په اساسي توګه کورېډورونه جوړ شي او خلکو ته زمینه د ژوند او دې برابره شي، هر څه یې ووېشل.

جنبش: ټول غرونه هم چور شول، غرونه چور شول.

دکتور غني: یا کورنۍ وې لکه د مرحوم اعلیحضرت کورنۍ نه، ګلباغ یې خرڅ کړ چې یو لوی‌ترین باغ و، دا معلومدار دوی په خپلو پیسو نه و اخیستی، دا د دولت و او ټولو ځایو کې دغه چور دی. بله برخه د ویالو ده. که د کابل لویو ویالو ته وګورئ لکه جوی بالا چې بالاحصار نه تېرېده. او که غواړئ په دې باندې پوه شئ د مرحوم ډاکتر اکرم عثمان لوی ناول ته (کوچهٔ ما) ته وګورئ، ځکه چې واقعاً د دې ویالې تشریحات ورکوي. بله برخه جوی شیر وه، او دلته هم د کابل تفریح‌ګاه وه، وختې چې محمود طرزي تشریحات درکوي چې د روس استازی راځي امیر شیرعلي خان ته، دا ساحه چې پخواني انحصاراتو ریاستونه او دا دي د ماشین خانې څنګ کې او اوس یو قسمت کتاب فروشي‌ګانې په کې دي دغه د کابل تفرجګاه وه. ماشین‌خانې باندې ما کار شروع کړی و، ۷۰٪ تکمیل شوی و چې بېرته [پاتې شو]. دا باغ علم ګنج و او ما یې بېرته نوم په باغ علم ګنج باندې بدلاوه. چارباغ، شهرآرا، جهان‌آرا، باغ بنفشه ... دا نور باغونه چې ټول وو. یو شی چې پاتې شو له یو خوا نه ارګ و، له بلې خوا نه پوهنتون د کابل و.

جنبش: تاسې مخکې د باغ عمومي یادونه وکړه، دا پل باغ عمومي مشهور دی، اما باغ عمومي نه څوک نه دي خبر، دا تر کومه وخته پاتې و دا...

دکتور غني: باغ عمومي تر وخته د امیر امان الله خان پاتې و او دا هغه پخوانی چارباغ دی، وختې چې تیمور شاه مقبره دلته آباده شوه، تکمیله نه شوله خو تکمیل یوویشتمې پېړۍ کې ښې مرغې نه، هغه قرارداد چې موږ آغا خان بنسټ سره وکړ تکمیل شو، دغه خپله یو لوی باغ و، او تر ۱۸۸۰ کې د ده شاوخوا څه شی نه وو، بیا د حبیبې مکتب جوړ شو هلته چې اوس د عایشه درانې مکتب دی او بله برخه کې منډوي‌ګانې موجودې وې مګر دا ساحه، منډویو ساحه یوه درېیمه برخه یې دولتي ده د دې سرایونو او باید ترتیب یې بل رقم ونیول شي. په دې اساس باندې د کابل شین‌والی له منځه لاړ. دا چینو ته ګورئ، د حضرت خضر چینه یا خواجه صفا چینه یا درېیمه چینه؛ اوس څو نفره په کابل کې له

دې نه خبر دي چې دا چینې پراخې د کابل تفرجگاه‌گانې وې او دلته به خلک تلل. مېرمنې د مثال په توگه کافي اسناد لرو چې د پنجشنبې په ورځ باندې یا د شنبې په ورځ باندې دوی باغونو ته تللې. باغ زنانه یوه برخه یې پاتې شوه له دې نه، نوره برخه یې غصب شوله، له منځه لاړ. موږ باید بېرته کابل سیند باندې اساسي توجه وکړو، شاتوت بند که جوړ شي او دې باندې به آینده کې وغږېږو، کابل بېرته شین کېدای شي. او د لسها کیلومترو ساحه د کابل د سیند په شاوخوا کې امکان د دې شته چې په سمه طریقه باندې بېرته د اوبو نظامونه وشي. مثال په توگه، که تاسې دارالامان ته وگورئ، هر کور د دارالامان چې په اساس د نقشې د امان الله خان شوی و، خپلې اوبه یې درلودې، دهبوري کې هم دا وو، نورو ځایونو کې هم وو. او بل، دوو ځایونو ته وگورئ، باغ علي مردان، دا د علي مردان خان باغ و، پس ته بیا له بدې مرغې نه دا په یوه کثیف ترین ځای [بدل شو] یا مرادخاني، دا د مراد علي خان چې د درانیو لویو سردارانو نه و، د هغه باغ و، اما دا باغونه بېرته بدل شول په مرور د زمان باندې. او کلاگانې هم ټولې له منځه لاړې، چهاربرجه او شش برجه دا... قلعه فتح الله خان. قلعه فتح الله خان ډېر لرې ځای و زما په کوچنیوالي کې. دغه لپاره ضرورت دی چې بېرته د کابل په ټولېدو باندې، د کابل په شین کېدو باندې په واضح توگه ترتیب ونیسو. یو دلیل یې جناب جنبش صاحب نفوس دی، ځکه که مخکې وگورئ چې څو پېړۍ کابل د ۲۰ زرو او ۵۰ زرو په منځ کې و، او که بیا د شلمې پېړۍ په پیل کې وگورئ چې کابل سل زره و. په ۱۹۶۵ یا ٦٦ کې د کابل احصائیه، مرکزي احصائیې د افغانستان ونیوله، دې کې د کابل نفوس ۵۰۰ زره و، او د ښار ټول اساس ۵۰۰ زرو نفرو ته جوړ شوی و. د ډاکټر نجیب د حکومت په ختم کې شاید دا تر ۱,۵ تر ۲ میلیونو رسېدلی و. بیا د کابل د بربادۍ نه پس په ۲۰۰۱ کې دا نفوس شاید ۲۰۰ زرو یا ۳۰۰ زرو ته ښکته شوی و ځکه ډېره برخه د کابل ورانه وه. په ۲۰۲۱ کې د کابل نفوس ۵ میلیونو ته رسېدلی و. یوازې چې دا وگورئ چې دومره نفوس په دې شدت باندې چې ډېرېږي ټول چاپېریال باندې یو عظیم منفي تاثیر لري. ایا کابل توان د ۵ میلیونو نفرو لري؟ دا سوال باید ټول مطرح کړو، او د دې چاره څه ده؟ چاره یې دا ده ټولو گاونډي ولایاتو باندې او نورو ښارو د افغانستان باندې، هغه طرحه د زرو ښارونو چې ور باندې وغږېدو، په اساسي توگه وگورو چې نفوس بېرته تقسیم شي، ځکه د کابل فاجعه دا ده چې کابل له څه نه به ډوډۍ پیدا کوي؟! او د کابل راتلونکی هم بې له عصري ټکنالوجۍ نه او بې له عصري پوهې نه اقتصادي راتلونکی به نه لري له بدې مرغې نه، اما که توجه وشي ویې به لري.

جنبش: شما اشاره‌های داشتید به این که در قرن شانزده کابل مسلسل می لرزید و زلزله های مدهشی رخ داده و در این آوآخر هم ما شاهد زلزله ها بودیم، خطرات عمده ییکه کابل را تهدید میکند به عنوان شهر یا میکرده در طول تاریخ چی بوده؟ مسئله طبیعی بوده یا مسایل انسانی؟

دکتور غني: هر دو! در مسایل طبیعي چند چیز است: یکی زلزله است، دوم مسایل صحی بود که دوامدار خطر کولرا بود و بعض اوقات اینها به وبا بدل میشد. سوم مسایل قحطی بود، که بار بار در حاصلات تغییر می آمد، چهارم برف باری های بسیار شدید بود که مخصوصاً غزنی تا کابل؛ کابل چند ماه در محاصره میبود. اقلیم [یکی از] نکات عمده

است و در سابق معلومدار چون تا ایجاد ترانسپورت عصری همه اینها ارتباط داشت با شتر، به حیث وسیله اصلی انتقالات و بعد از آن مرکب و آسب و اینها. دوم، شهر کهنه آفتاب نداشت، سل (توبرکلوز) در شهر کهنه نهایت زیاد بود. امراض مختلف بود که صحت یابی همیشه با مشکلات بود. از همین جهت مردم به طرف نفس کشیدن بر آمدند و طرح امان الله خان از خاطر دارالامان از خاطر همین بود که مردم بتوانند بر آیند، به صورت تدریجی بعد از آن برآمد. خطر زلزله دوامدار است، از جهتی که بین کابل از یک طرف و سروبی دو پلیت بزرگ جیولوجیکی وجود دارد که ایجاد زلزله را واقع کرده میتواند. و حرکت اینها قابل پیش‌بینی نیست، بنابرین نقطه عمده اینست که تعمیرهایی که ساخته میشوند، خداناخواسته مسئله استانبول، مسئله خاف، شهرهای دیگر ایران و گذشته کابل تکرار نشود. فساد اداری موجب این شده که بلند منزل های بزرگ را اجازه بدهند. مشکل دیگر کابل اُفت زمین است، هر چه مقدار آب کمتر میشود و چاه‌ها عمیق‌تر میشوند به همان اندازه خطر اُفت خود زمین پیدا میشود، دفعتاً زمین لر کرده میتواند...

(جنبش) پایین میرود.

دکتور غني: بلی پایین میرود. قسمت دیگر این معلومدار فاجعه‌های کابل از نگاه انسان است، کابل همیشه بدبختانه در روزهای بد خود با چور، با آتش زدن، استعال توپ و تفنگ به صورت وحشیانه این، چه از طرف حملات بیرونی است و چه از طرف خود ما در مقابل یک دیگر ما وجود داشت، و انسان سر انسان در کابل نهایت ظالم بود.

جنبش: و این سلسله تا این اوآخر ادامه داشته و البته این نیم قرن تقریباً از پیش روی نسل ما گذشته که چی بر شهر کابل آمد به اصطلاح وقتیکه پادشاه گردشی میشد و تقریباً خطر شبیه ویرانی کابل در آگست ۲۰۲۱ دوباره به وجود آمد.

دکتور غني: مطلق! و هر کسیکه سابقه کابل را میفهمد، باید بداند خطر مال و جان میلیون ها افغان ما وجود داشت؛ خطر از بین بردن تمام تاسیسات دولتی و شخصی وجود داشت؛ و خطر چور کابل به صورت اساسی وجود داشت. و اگر میخواهید که تصویری داشته باشید، از خطراتی که وجود داشت، من دو کتاب را توصیه میکنم: یکی خاطرات مرحوم فیض محمد کاتب، که پادشاه گردشی ۱۹۲۹ را به حیث چشم دید توضیح میدهد و فجایعی را که رخ داد و در ختم آن چور کابل که مرحوم نادر خان امرش را داد، سه روز یا پنج روز کابل چور شد. و دوم کتاب حسام صاحب را بخوانید، آدم ربایان قرن بیست و یک، که خاطرات حسام صاحب، یکی از شاعرهای عمده زبان پشه یی و زبان پشتوی ما است که اختطاف پسر خود را تشریح میدهد و این که چطور مجبور شد که جایداد خود را بفروشد که در زمان بعد از سقوط حکومت داکتر نجیب چه رخ نداد سر این شهر! و خاطرات عزیز رویش را.

جنبش: کله چې زه ۲۰۰۱ کال کې د طالبانو د لومړي امارت له ماتې نه وروسته لاړم، د پوهنتون ساحې ته اول لاړم دغه د غازي لیسې مخ ته، دغه سیمه مې ولیدله تر میرویس میدانه پورې یا کوته سنگی چې ورته وایي، دغه سیمه

اصلاً د پېژندلو نه وه او اصلاً ما نه شو کولای زه خپل احساس تاسې ته بیان کړم چې کابل د کورنیو جګړو په نتیجه کې په څه شي باندې اوښتی و، کومه بڼه یې غوره کړې وه.

دکتور غنی: زه هم عین احساسات لرم جناب جنبش صاحب. زه پس له ۲۴ کلو نه راغلم باګرام ته، ۲۶ د دسمبر د ۲۰۲۱ و، ټول شمالي کې ــ هغه شین شمالی چې زما د ټولې ځوانی، کوچنیوالي او ځوانی خاطرات وو؛ یوه ونه نه وه. کابل ته چې راغلم، لاړم دارالامان ته، یا کارته سه ته، سرای غزني ته، کابل پوهنتون ته چې لاړم ما وحشت وکړ، زه چې رئیس د کابل د پوهنتون وم، موږ ۴۰ ټنه داغمه مواد جنګلک ته انتقال کړل. څه فجایع د کابل پوهنتون کې نه وې شوې! کومې فجایع په نورو برخو کې، دې ټوله کارته سه کې څو تعمیره پاتې وو؟! وزیر اکبر خان کې ما چې د نیا کور مې پیدا کړ، ټول کور وران و، یوه برخه کې یې څه نه وو پاتې. او د بُن په معاهدې کې په واضح توګه راغلي وو چې باید هغه خلک چې بشري جنایات یې کړي وو، باید ورنه پوښتنه وشي او د پوښتنې پر ځای دوی د واک څښتن شول. نور خلک موږ همیشه ملامتوو او د ملامتولو وړ دي. ویکر په نامه یو امریکایی دی چې دوران د ولسمشري د ریګن کې د CIA مسوول چې مجاهدینو سره ... او دی وایي چې څو سوه زره نفر یې تربیه کړل چې کابل تخریب کړي، کابل له منځه یوسي او نورو ښارو باندې، د بمباریو وسیلې باندې...

جنبش: دا د ډاکتر نجیب الله وخت و؟

دکتور غنی: د نجیب الله وخت کې، او له بلې خوا نه روسانو کومه ونه پرېښوده؟ اما مهمترین شی دا دی چې کابل منځ کې چا ګولۍ وچلولې؟ او څوک وو چې عوامل د دې بربادۍ شول؟ دغه شی باید د خلکو په ذهنیت کې [کېني]. یو دلیل چې جناب جنبش صاحب د تاریخ پوهه اهمیت لري [دا دی چې] کابل کې تاریخي حافظه له منځه تللې، ځکه اکثریت خلک چې اوس په کابل کې ژوند کوي، هغه پخواني د کابل خلک نه دي. ما د پخواني کابل کوڅو کې ډېر کم خلک پیدا کړل چې زما له کوچنیوالي نه لا هلته پاتې دي، کابل نوی شوی، له یوې خوا نه دا ښه والی دی، اما له بلې خوا نه بدوالی یې دا دی چې دا تاریخي خاطرات چې د کابلیانو په سینو کې وو، او موجب د دې کېده چې تاریخ نه عبرت واخلي [له منځه تللي]. آیا زموږ هوایي قوې، د داود خان په مقابل کې په کودتا کې ارګ او ښار یې بمبارد نه کړل؟

جنبش: دلکشا برج په هماغه وخت کې له منځه لاړ.

دکتور غنی: بالکل ما له سره... یوازې دلکشا نه ده، حرمسرای، حرمسرای مطلق مصنوعي ترمیم شوی و ما له سره آباد کړ. هر شی چې ګورئ، یا جبل‌السراج ته، یا استالف ته، کومه مانۍ وه چې دوی پاتې کړه؟! کومه زموږ د تاریخ برخه وه چې په عزت ورته وکتل شول؟! څومره خلک حلال شول؟! څومره ناموسونه بې‌آبه شول؟! څومره مېرمنو خپل ځانونه له بامونو نه واچول؟! دلته مجبوره یوو چې تاریخ ته وګورو او دې برخه کې، ښه ده موږ احساس د فراموشۍ درلوده او غوښتل مو چې وطن آباد کړو، اما بله برخه یې دا ده چې ځینو نورو دا دوام ورکړ، ضروره ده چې د تاریخ

له تکرار نه مخنیوی وشي، او قدرت په دې نه ارزي چې انسانان قرباني کړئ! سلها زره انسانان د دې لپاره قرباني کړئ چې یو نفر میلیاردر شي او نور ټول خلک په غم کې اوسي.

جنبش: او استاده یوه اساسي پوښتنه چې ولې په کابل دومره ډېر وغږېدو دا ده چې دا پایتخت دی، پلازمېنه ده او دا له ۱۷۷۳ کال نه را په دې خوا تیمور شاه سلطنت مرکز له قندهار نه چې د احمدشاه بابا مرکز و، کابل ته راوړ. موږ په تاریخ کې لوستي و چې دا کار یې ځکه وکړ چې له سیمه ییزو متنفذینو نه یې ډار درلوده او نه یې غوښتل چې هغوی د ده په چارو کې مداخله وکړي. ستاسو له نظره ولې تیمور شاه سره د دې چې د تیموریانو د دورې لرغونی هرات یې هغې خوا کې و او د غزنویانو د دورې لویه پلازمېنه غزنی یې دې خوا کې و، کابل ته ولې راغی؟

دکتور غنی: زما له نظر نه –په احترام سره زموږ مورخینو ته، زه فکر کوم چې ۲ نور عمده دلایل باید نظر کې ونیسئ: یو دا دی چې تیمور شاه ته احمد شاه بابا لقب د پاچاهی د پنجاب ورکړی و او ده ډېر وخت پنجاب کې تېر کړ، مگر دې کې بریالی نه شو چې دی یا خپله احمد شاه بابا پنجاب کې ثبات راولي، ځکه د سکهانو مسلح خوځښت بدل شو په یو عظیم حرکت باندې چې بالآخره په رنجیت سنگهـ باندې ختم شو. زما په اند، تیمور شاه ډېر زښت په دې پوهېده چې عمده خطر په راتلونکي کې به له شرق نه وي او ځکه کابل یې مرکز ونیوه. دویمه برخه د دې دا ده چې دی معاصر دی د شاه مراد د بخارا او شاه مراد له هغو پاچاهانو نه و چې بیا هم غوښتل یې چې یوه امپراتوري جوړه کړي او بلخ ونیسي او شمال د افغانستان ونیسي. او دلته و چې تیمور شاه وخوځېده، شاه مراد سره په دې نتیجې باندې ورسېده چې آمو سیند به سرحد وي. ستراتیژیک له نظر نه دغه دوه ابعاده باید نظر کې ونیسئ. بله برخه چې هېره نه شي، پخوا مې هم ذکر کړله، دراني سردارانو ټولو ده سره حرکت وکړ او د ده په دربار کې وو، دلته ښکته او پورته شول، اما ده پس له دې نه چې وزیر شاه ولي خان او د هغه کورنۍ یې، ځیني زامن یې اعدام کړل او خپل ورور شهزاده سلیمان یې له منځه یووړ، له هغه نه پس ده راشه درشه وکړله. دویمه مرحله کې ټکرونه د پاچا او د خانانو په منځ کې او سردارانو منځ کې پس ته راځي، یو دوامداره کشمکش دی، اما دا کشمکش د احمد شاه بابا په دوران کې هم و، ځکه چې وزیر شاه ولي خان یې یو وارې لرې کړی و، اما شاه زمان د مثال په توگه د وزیر شاه ولي خان زوی، شېر محمد خان یې بېرته راوړ، وزیر یې کړ. د دې په څنگ کې ده غوښتل –ځکه چې احمد شاه بابا قندهار کې خپل اساس ایښی و، چې یو ښار کې چې د پلازمېنې حیثیت ولري خپل نوم پرېږدي او په یوه فضا کې وي چې هرې برخې ته ورسېږي. زه فکر کوم دا دلایل هم که نظر کې ونیسئ، نو بیا به ابعاد د معقولیت د دې تصمیم واضح شي.

جنبش: بسیار خوب، امیداور استم شنونده‌ها این تشریحاتی که البته در این فرصت اندک در مورد تاریخ شهر کابل و اهمیت آن در این جغرافیه را شنیدند برای شان مفید بوده باشد و یک پیش زمینه ای شده باشد برای برنامه آینده که در آنجا روی برنامه های شما برای شهر کابل که چگونه این را دوباره رونقش را احیا کنیم هم از نظر محیط زیستی، هم از نظر این که به یک شهر مطابق معیارهای قرن ۲۱ تبدیل شود. کوتاه پیش از این که برنامه را به پایان ببرم، اگر در یک دقیقه برایم بگویید که اساس برنامه های شما برای کابل روی چی استوار بود؟

دکتور غنی: اساس برنامه های ما برای کابل این بود، که کابل بر اساس تاریخ خود، خود را به قرن بیست و یک تطابق بدهد و آینده داشته باشد که برای سه صدمین سالگره ایجاد دولت معاصر افغانستان، نقش یک پایتخت قابل اعتبار، عزت و حیثیت منطقوی و بین‌المللی را دارا باشد، تا عزت افغان‌ها که در ۱۷۴۷ ایجاد شده بود در ۲۰۴۷ انعکاس داده شود.

جنبش: ډېره مننه ښاغلی ولسمشر په همدې به دا خپرونه بشپړه کړو، یوه توضیح راغله چې راتلونکې خپرونه کې به د کابل په اړه هماغسې چې د نورو پنځو ښارونو په باره کې وغږېدو، ستاسې په پلانونو وغږېږو چې څه مو غوښتل، دغه اوسنی حالت د کابل واوړي او کابل یوه رښتونې نړیواله پلازمېنه شي. ډېره مننه. له تاسې او له اورېدونکو سره په همدې ځای تر بلې خپرونې خدای په اماني کوم، تر بیا!

دکتور غنی: مننه له تاسې نه او زما سلامونه او نېکې هیلې ټولو اورېدونکو ته او ټولو وطنوالو ته، زنده باد افغانستان، یشه سین افغانستان، تل دې وي افغانستان.